مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۱۸/۱۱/۱۴

# د سولي لپاره د امریکا نوي هلي ځلي

داسي ښکاري چي امريکا، په افغانستان کي د يوې دوامداري سولي د ټينګښدلو لپاره، خپلي هلي ځلي جدي کړي دي او سوله، په نيژدې راتلونکي کي، ممکنه ښکاري. د امريکا د معتبري ورځپاڼي وال سټريټ ژورنال د نومبر د ديارلسمي له رپوټ څخه معلومېږي چي امريکا ښايي د افغانستان حکومت د وري د مياشتي په پای کي د جمهوري رياست انتخاباتو ته پرې نه ږدي او د يوه نوي جريان لپاره لاره هواره کړي. د دې نوي جريان تخنيک لا تراوسه پوري څرګند سوی نه دی خو د سولي لپاره د امريکا د خاص استازي ډاکټر زلمي خليل زاد او د افغانستان د جمهوررييس اشرف غني له وروستی کتني څخه معلومېږي چي امريکا د افغانستان پر اوسني حکومت باندي خپل باور له لاسه ورکړی دی او د هغه د خوښي په خلاف د يوه موقتي حکومت د جوړېدلو او د يوې پراخي لويي جرګې د رابللو په لټه کي ده .ارګ ته نيژدې سرچينې وايي چي جمهوررييس اشرف غني به دا ځل سروردانش بيا هم د دوهم مرستيال او عطانور د لومړي مرستيال په حيث پيشنهادکړي او په دې توګه به د عطامحمدنور د رايو يو لوی بانک تر لاسه کړي .جمهوررييس اشرف غني ځکه پر انتخاباتو باندي ټينګار کوي چي په خپل بري باوري دی؛ او که يو ځل د راتلونکي کال په انتخاباتو کي بری تر لاسه کړي بيا نو امريکا د يوه انجام سوي عمل سره مخامخ کېږي او د پنځو کلونو لپاره د هغه ليري کول يو لوی سياسي بحران منځته راوړي. امريکا، د همدغه بحران د مخنيوي په منظور، تر هر څه مخکي د انتخاباتو مخه نيسي؛ ځکه چي اشرف غني په هيواد کي د سولي او ثبات په ټينګولو، د اداري فساد سره په مبارزې او د مخدره موادو د توليد او قاچاق په له منځه وړلو يا لږترلږه يو څه کمولو او حتی د توليد د زياتېدلو په مخنيوي کي ناکام سوی دی .
د وال سټريټ ژورنال ورځپاڼه ليکي چي د انتخاباتو د ځنډولو لپاره د امريکا يو دليل دا دی چي نه غواړي له طالبانو سره يې د سولي خبري بې نتيجې سي. ځيني امريکايي مقامات وېره لري چي په افغانستان کي په رايه ګيری کي بې نظمۍ او هغه پرله پسې سياسي ګډوډي چي هر ځل د رايه ګيري په نتيجه کي منځته راځي ښايي د سولي هغه جريان زيانمن کړي چي ښاغلي خليل زاد روان کړی دی. ورځپاڼه زياتوي چي متحده ايالات د سولي د جريان د چټکولو او هغه ته د طالبانو د راوستلو لپاره په کابل کي له مشرانو سره ګوري تر څو د رقيبو سياسي ډلو ترمنځ يوه مشترکه زمينه برابره کړي. ورځپاڼه وايي چي ښاغلي خليل زاد خپلو ملګرو ته ويلي دي چي د امريکا جمهوررييس ډانلډ ټرمپ ده ته له شپږو څخه تر دوولسو مياشتو پوري وخت ورکړی دی چي بايد يوه نتيجه ترلاسه کړي .که څه هم چي د وال سټريټ ژورنال ورځپاڼي په قول په کابل کي حکومتي مقاماتو او سياستمدارانو د انتخاباتو د ځنډولو سوړ هرکلی کړی دی، خو دا هغه مفکوره ده چي د پخواني جمهوررييس حامد کرزي مطبوعاتي دفتر د ۱۳۹۶ کال د ميزان د مياشتي د شلمي په مطبوعاتي اعلاميه کي پيشنهاد کړې ده. ښاغلي حامد کرزي په هغه اعلاميه کي د سولي لپاره د هلو ځلو د چټکولو او په دې برخه کي د امريکا د همکاری غوښتنه کړې ده او پيشنهاد يې کړی دی چي يو دوامداره حل هغه وخت رامنځته کېدلای او بريالی کېدلای سي چي د هيواد سياسي مشران، منورين، ديني عالمان او قومي مشران په يوه پراخه عنعنوي لويه جرګه کي را غونډ سي او د افغانستان د راتلونکي په باره کي يوه ګډه فيصله وکړي .په وروستيو شپو ورځو کي، د امريکا سفير، د سيمي د هيوادونو سفيرانو او ښاغلي زلمي خليل زاد د ښاغلي حامد کرزي په کور کي له هغه سره ليدلي دي. د امريکا او د ښاغلي حامد کرزي د نظر له ورته والي څخه ښکاري چي امريکا پر هغه باندي حساب کوي او د سولي د ټيګښدلو لپاره يې نوې لاره انتخاب کړې ده .
ورځپاڼه وايي چي ډېرو حکومتي مقاماتو د جمهوري ريسات د انتخاباتو له ځنډېدلو سره مخالفت ښودلی دی مګر ځينو عالي رتبه مامورينو خپل رضاييت څرګند کړی او ويلي يې چي که سوله کوو نو بايد چي نرمښت وښيو او د جمهوري رياست انتخابات د سولي تر ټينګښدلو مهم نه دي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه د یوه غربي ډیپلومات له قوله لیکي یو بل احتمال چي بحثونه وربانديکېږي هغه دا دی چي انتخابات به کېږي مګر نوی حکومت به انتقالي حیثیت لري، په داسي حال کي چي، د طالبانو په شمول، په جګړه کي لګیا ډلي به د یوه حاکم ایتلاف پر جوړولو باندي کار کوي چي البته هر اړخ خپل ځانته ستونزي لري .
وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه د سیګار له قوله لیکي چي د ۲۰۱۵ کال راهیسي چي اشرف غني حکومت پیل کړی دی، پر اولسوالیو باندي د هغه کنټرول ورځ تر بلي کم سوی دی. دغه راز د اولسي جرګې لپاره رایه ګیري په ځینو ځایونو کي وځنډېده اوډېري بې نظمی پکښی ولیده سوې او طالبانو حملې هم وکړې. اوس نو که د جمهوري ریاست لپاره انتخابات، چي د طالبانو د جنګونو په موسم کي به کېږي، وسي نو چنداني قانونیت به ونه لري .
له بلي خوا، روسیې په داسي وخت کي د افغانستان د سولي ابتکارته لاس واچاوه چي داسي ښکاري امریکا د افغانستان په برخه کي په خپله پالیسي کي جدي تغییر راوستلو ته ملا تړلې ده. په داسي حال کي چي هرڅوک په دې پوهېږي چي په دې میدان کي به امریکا اصلي او مهم لوبغاړی وي مګر ماسکو هم څوک له نظره نه سي غورځولای .داسي ښکاري چي طالبان په ماسکو کي د سولي په باب له دې وروستی غونډې څخه ډېر راضي ول. د طالبانو د هیات مشري د شیرمحمدعباس ستانکزي پر غاړه وه، چي په انګلیسي ژبه رواني خبري کوي او د ډېرو زیاتو غربي خبریالانو او د افغانستان د خبریالانو توجه یې ور اړولې وه. طالبانو ښایي د شیرمحمدعباس ستانګزي په ټاکلو سره، چي فیشني افغاني جامې یې په تن وې او، د هغوی د ټولو اصولو په خلاف یې، فیشني او لنډه ږیره درلوده، غوښتل دا وښیي چي دوی هغه طالبان نه دي چي څه کم شل کاله مخکي یې په افغانستان کي قدرت درلود او خلک یې د شلاقو او کیبلونو په زور د اوږدو ږیرو پرېښودلو ته مجبورول. عباس ستانګزي په مرکو کي د تعلیم او تربیې او د ښځو د حقوقو د مسلې پر موضوع باندي ټینګار کاوه. او ضمنا یې دا خبره په هیڅ توګه نه منله چي د طالبانو په صفوفو کي ګواکي بې اتفاقي راغلې ده. عباس ستانګزي، خپل یوه مولوي ملګري ته، په هغه ټلفوني پیغام کي چي د افغانستان استخباراتو ثبت کړی او د سرخط ورځپاڼې ترلاسه کړی دی د سولي له وروستیو خبرو او د خپل استقبال څخه ډېر راضي ښکاري. هغه په خپل دغه پیغام کي وایي چي د دوی مطبوعاتي کنفرانسونو ته تقریبا درې سوه خبریالان ورغلي ول. هغه دا هم وایي چي د کابل د حکومت هیات ته چا چنداني توجه نه کوله او هغوی ډېر خړ ګرځېدل. ستانګزی په دې پیغام کي وایی چي د کابل د هیات مشر حاجي دین محمد ته یې وویل چي تا خو افغانستان ته د امریکایانو، یا د ستانګزي په اصطلاح سرو، په راوستلو کي مرسته وکړه اوس زموږ سره ملا وتړه او د هغوی په ایستلو کي راسره ملګری سه. ستانګزی وایي حاجي دین محمد ومسل او زما د غوښتني هرکلی یې وکړ .
د روسیې په غونډه کي یوه بله په زړه پوري خبره دا وه چي د افغانستان حکومت تر پایه ویل چي دا غونډه د افغانستان د حکومت نظر نه څرګندوي بلکه د سولي د عالي شورا کار دی. خو په غونډه کي د جمهورریس اشرف غني کاکا ډاکټر قیوم کوچی، چي په کابل کي په کوچي کاکا مشهور دی، ناست وو او په خپل ګډون سره یې غونډې ته رسمي شکل ورکړی وو. کوچي کاکا، چي تقریبا پنځه اتیا کلن دی، له څه باندي دریو میاشتو راهیسي په ماسکو کي د افغانستان د سفارت له چوکۍ څخه برطرفه سوی دی؛ مګر تر اوسه یې سفارت نه دی پرې ایښی او خپلې وظیفې ته یې دوام ورکړی دی. داسي ښکاري چي د ماسکو په غونډه کي یې د افغانستان حکومت ته له اطلاع ورکولو پرته برخه اخیستې وي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ